DA AFGHANISTAN BANK

# بانک

د افغانستان بانك مياشتنۍ

شپاړسم کال، ۱۹۰ ګڼه د ۱۴۴۴ کال شوال المکرم (۱۴۰۲ غويي) مياشت



# اتصال اقتصادی افغانستان؛
## حرکت به سوی
## چهار راه ترانزیت منطقه



# اداینیز کارتونه

اداینیز کارتونه د توکو او خدمتونو لپاره په برېښنایي ډول د اداینې زمینه برابــروي. په دې کې ډېبیټ کارتونه، کریډېټ کارتونه او د مخکې اداینې کارتونه شــامل دي چې د بانکي سکتور پیرودونکو لپاره د لازیاتو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه په پام کې نیول شوي دي.

## د اداینیزو کارتونو ګټې

- د نغدو پیسو د لېږد او له ځان سره د ساتلو خطرونه کموي
- د توکو او خدمتونو د پېرلو پر مهال په برېښنایي ډول د پیسو ادا کولو اسانتیا
- د پېرلو پر مهال یاد کارتونه د اداینیزو کارتونو په ماشینونو کې کارولای شئ
- د انټرنیټ له لارې د توکو پېرلو پر مهال یې د پیسو اداینې لپاره کارولای شئ
- د پیسو خپلکار ماشین څخه د پیسو ایستل
- له هېواده بهر د سفر پر مهال د کارونې وړ وي
- د نغدو پیسو په پرتله یې له ځان سره په اسانه او خوندي ډول له یو ځای څخه بل ځای ته وړلای شئ



# بانک


| لړلـــــیک / فهرست | مخ |
| --- | --- |
| د سرو زرو پر مټ د اداینو بیا پیل | ۲ |
| اتصال اقتصادی افغانستان؛ حرکت به سوی چهار راه ترانزیت منطقه | ۵ |
| پول افغانی هویت ملی ماست | ۷ |
| د بازار په اقتصاد کې د حکومت رول | ۹ |
| اهداف عمده انکشافی افغانستان | ۱۲ |
| د افغانۍ یو کلن مزل : د ارزښت ساتنې عوامل او پرمختګونه | ۱۴ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۷ |
| احیای اقتصاد با حمایت از تجارت های کوچک و متوسط مساعد میگردد | ۱۹ |
| په اسلامي بانکوالی کې د نغدینګی ننګونې او حل لارې | ۲۳ |
| The Ups and Downs of Afghanistan’s Banking Sector over the... | ۳۱ |



د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده او خواجه عصمت الله خلاند

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: انور الله حیات

خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک د سرپرست رئیس پیغام

درنو هېوادوالو!

یو ځل بیا ډاډ درکوم چې د معقولو پولي سیاستونو په پلي کولو سره چې د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ساتلو او کورنیو بیو د ثبات لامل کېږي خپلې هلې ځلې جاري ساتو او همدارنګه د بانکي نظام د ټینګښت او په دې سکتور کې د سمونونو راوستلو او لا ښه والي لپاره به کوټلي ګامونه پورته کړو.

له سیاسي بدلون وروسته د هغو محدودو بانکونو سره چې تر فشار لاندې دي په ټول ځواک کار کوو او پر هغوی بـه زمونږ څارنه د ملاتړ په ډول وي، تر څو بانکي نظام لا پیاوړی او د خدمتونو کچه پراخه او با کیفیته شي.

د عنعنوي بانکدارۍ نظام څخه اسلامي بانکدارۍ نظام ته اړول زمونږ د کاري لومړیتوبـونو څخه دي، په دې بـرخه کې لومړني ګامونه پورته شوي، د مالی، بشري او سیستمونو ظرفیت ته په کتلو سره به یې قدم په قدم څارنه وکړو.

همدارنګه د افغانستان بانک د بانکي اړیکو د پراختیا او پرمختګ په برخه کې د نړۍ له هېوادونو او ادارو سـره د تعامل له مخې پر خپلې ژمنې ولاړ دی او د اړیکو د لا ښه والي لپاره چې د هېوادوالو د هوساینې، خصوصي سکتور او د اقـتصادي ودې لامل کېږي، هڅې جاري وساتي.

د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه پر خپلو نړیوالو ژمنو ولاړ دی، مونږ د پیسو وینځلو او د ډالرو د قاچاق پر وړاندې مبارزې ته جدي پاملرنه کوو او د امنیتي او قضایي ادارو په همکارۍ به دې مهمې مسئلې ته رسیدنه وکړو.

د صرافیو او د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو تنظیمول زمونږ لپاره بله ستراتیژیکه مسئله ده او دې موضوع ته بـه په پوره جدیت سره ګډ کار ته دوام ورکړو.

د افغانستان بانک د کنګل شوې شتمنۍ بېرته عادي حالت ته راوړل او د قانون په رڼا کې د هغه کارولو لپاره له نړیوالو شریکانو سره خپلو تخنیکي بحثونو ته د مطلوبو پایلو تر لاسه کولو پورې دوام ورکوو.

د دې پروګرامونو د پلي کولو لپاره له الله جل جلاله څخه د عمل کولو د توفیق غوښتونکي یو.

په درنښت

**الحاج هدایت الله بدری**

**د افغانستان بانک سرپرست رئیس**



# د سرو زرو
## پر مټ د ادائینو بیا پیل






د سرو زرو پر مټ د پیسو ادایـنـې پـه چټکۍ سره د زیاتېدو په حال کې دي ځکه چې پېرودونکي د هر هغه څه په لټه کې دي چې ثبات ولري او په دې برخه کې سره زر هغه ګران بیه فلز دي چې تر نورو ډېر ثبات لري، چې دا چاره ښايي د مقرراتي کمپنیو او شرکتونو پام ځانته راواړوي.

د راپورونو پر بنسټ، په اروپا کې د سرو زرو پر مټ د پرچون ادائینو ترسره کولو کې له استفاده زیاته شوې، چې دا د حیرانتیا وړ ده. لکه څرنګه چې زرهاوو کلونه وړاندې سره زر د نورو توکو د پېرلو په بدل کې د ادایني د ابزار په توګه کارول کېدل، اوس مهال دغه ډول ادایني بیا د پراخېدو په حال کې دي.

دا چاره د یو شمېر بانکونو لکه، ګلینټ Glint او ویراکیش VeraCash لخوا اوس تازه پیل شوې او د انلاین پېروپلور ځینې نور سوداګریز شرکتونه، چې یو یې د منټېډ Minted شرکت دی، پلان لري ترڅو ژر تر ژره د سرو زرو په مرسته ادایني په لاره واچوي. دا بانکونه د نیوبینک Nubank، ریولټ Revolut او چایم Chime په څېر د موبایل کاریالونو له لارې خپلو پېرودونکو ته بې

ساري بانکي خدمتونه وړاندې کوي، خو هغه څه چې له نورو سره ډېر توپير لري دا دي چې کاروونکي يې کولای شي پيسې په سرو زرو بدلې کړي او په اداينه کې ترې کار واخلي. د موبايل اپليکيشن له لارې دا ډول خدمتونه په چټکۍ سره د زياتېدو په حال کې دي او په دې برخه کې د خلکو تقاضا ورځ تر بلې زياتېږي، چې د ځينو بانکونو او انلاين سوداګريزو پلورنځيو مسؤلينو څرګندونې يې ښه ثبوت دی.

د ويراکيش عملياتي مدير، اګناسو ساينز ايګليسياز وايي، "مونږ په حقيقي او فزيکي توګه د سرو زرو په مرسته د ادايني چاره ترسره کوو. پېرودونکو ته د يورو په بدل کې سره زر ورکوو او په دې توګه يې پلورونکو ته نغدې پيسې تاديه کېږي." د يادونې وړ ده چې د انلاين پېروپلور دا شرکت د سرو زرو پر مټ د ادا ينو د بهير سرلاری پاتې شوی او تر دا مهاله ٣٥،٠٠٠ پېرودونکي لري او اټکل کېږي چې د سرو زرو مخکښو بازارونو، آلمان او هسپانيې ته د دې شرکت د خدمتونو او فعاليتونو له پراخېدو وروسته به يې پېرودونکي د پام وړ زيات شي. په اوسط ډول د دې شرکت د پېرودونکو د بيلانسونو ارزښت له ٨٠٠٠ پاونډو څخه ٩٠٠٠ پاونډو ته رسيږي. د نوموړي په وينا، پېرودونکي کولای شي له خپلو کارتونو څخه په نورو بهرنيو هېوادونو کې کار واخلي يا د عادي فيس پرته پيسې ولېږدوي. همدارنګه دوی کولای شي د بهرنيو اسعارو سره يو ځای د ګرامونو په اندازه سره زر نورو هېوادونوته ولېږي. د نوموړي د څرګندونو له مخې ښايي سره زر د بهرنيو اسعارو پر بازارونو هم اغېزه پرېباسي.

د سرو زرو پر مټ د ادا ينو په برخه کې د تقاضا زياتوالي په اړه د بريتانيا ميشتې شرکت ګلينټ بنسټ ايښودونکی او اجرائيوي رئيس، جيسن کوزينس وايي، "زمونږ سوداګرۍ د پام وړ وده کړې څکه چې پېرودونکي يواځې د انفلاسيون د مخنيوي حل لارې په لټه کې دي." د نوموړي په وينا، يواځې په تېره ربع کې زمونږ عوايد او کاروونکي ١٣٠ سلنه زيات شوي او تر دا مهاله ١٥٠،٠٠٠ کاروونکي لرو." هغه زياتوي چې د دوی پېرودونکي ورځني توکي لکه خوراکي مواد، سون توکي او نور شيان پلوري او دوی هڅه کوي چې په نورو برخو کې هم پانګونه وکړي، چې په وينا يې د ګلينټ شرکت په پام کې لري ترڅو د دې اپليکيشن له لارې د خپلو پورونو د ادايني لپاره پېرودونکو ته د اسانتياوو رامنځته کولو په لړ کې د مستقيم ډېټ خدمتونه وړاندې کړي. همدارنګه د مينېجډ شرکت يو تن مسؤل، ښاغلي منير په وينا دوی هڅه کوي چې د سرو زرو په مرسته بيمه رامنځته کړي. هغه زياتوي چې د سرو زرو پر مټ د ادا ينو چاپيريال د رامنځته کېدو په حال کې دی او د هر ډول مالي لګښتونو پر وړاندې پرانيستی دی.

د سرو زرو نړيوالې شورا د عمومي رئيس، جوزيف کاواتوني په وينا "دا يو پرمختګ دی او دوی يې له نږدې څاري." نوموړی زياتوي چې د سرو زرو د تقاضا په بهير کې په لوړه کچه زياتوالی تر سترګو کېږي، چې د دغې شورا د معلوماتو پر بنسټ د ٢٠٢١ کال په پرتله د ٢٠٢٢ کال په لومړۍ ربعه کې د سرو زرو په تقاضا کې ٣٤ سلنه زياتوالی راغلی دی، چې لامل يې په سرو زرو د ادايني زياتېدل ګڼل کېږي. د ښاغلي جوزيف په وينا په اروپا او د نړۍ په نورو برخو کې نارينه او ښځينه ګلينټ

شرکت دفترونو ته مراجعه کوي، چې عمرونه یې له ۱۸ تر ۹۲ کلونو پورې دي. نوموړې زیاتوي چې د بانک بیلانسونه هم مختلف دي او داسې خلک هم پکې شته چې په خپل حساب کې ۵ یورو لري، حال دا چې ځینې پیرودونکي په خپلو بیلانسونو کې میلیونونه یورو لري.

د جوزیف کاواتوني په وینا، زیات شمېر کارنان سره زر زیات ثبات لرونکي اسعار بولي او کارولو ته یې زړه ښه کوي. د ویراکیش پیرودونکي د انټرنټ له لارې توکي پېري او هر یو یې شاوخوا ۱۰۰ پاونډه لګښت ورکوي، خو ځینې یې کم ارزښت لرونکي توکي پېري او حتی په فرانسه کې خلک کولای شي په سرو زرو وچه ډوډۍ هم وپېري. دا د وبا څخه دمخه کلونو راپدېخوا یو ډراماتیک او نوی بدلون دی، چې هغه مهال د پانګونې وړ سره زر د پرچون توکو پیرودونکو لپاره د لاسرسي وړ نه وو چې د دې کاریالونو په پراختیا سره به خلک وکولای شي سرو زرو ته لاسرسی ولري. لکه څرنګه چې د انفلاسیون نرخ ورځ تر بلې د لوړېدو په حال کې دی، د سرو زرو پر مټ اداینه کولای شي د انفلاسیون د لوړوالي په مخنیوي کې مهم رول ولوبوي. په ورته وخت کې خلک کولای شي د سرو زرو څخه د استفادې په زیاتولو سره د انفلاسیون زیانمنوونکو اغېزو پر وړاندې خپل عواید پیاوړي او خوندي کړي او خپلې ورځنۍ اجورې لا زیاتې کړي. تر ټولو مهمه دا چې، سره زر د اسلامي شریعت د قوانینو سره برابر دي او ټول اسلامي هېوادونه کولای شي ګټه ترې پورته کړي. که څه هم، د ښاغلي منیر په باور راتلونکي قوانین ښایي د سرو زرو پر مټ د اداینې د پرمختګ مخه ډب کړي او د نوموړي په فکر د اداینو په بهیر کې د سرو زرو په شاملېدو سره به مقررات لا سخت شي. دا هغه څه دي چې د سرو زرو نړیواله شورا غواړي په دې برخه کې کار وکړي ترڅو مقرراتي کمپنۍ او پیرودونکي وکولای شي په هغه څه باور وکړي چې غوره معیارونه، ثبات او د وروسته څار وړتیا ولري.

اوس پوښتنه دا ده چې آیا سره زر به په یوه عمومي کرنسۍ بدل شي؟ او دا چې آیا بانکونه باید د دغه ډول اداینې خدمتونه وړاندې کړي؟ په دې اړه ښاغلی ساینز اګلیسیاز وایي چې د دې پوښتنو ځوابونه ډېر ساده دي ځکه چې په اروپا کې خلک د بدلون په حال کې دي (د اداینې طریقه بدلون مومي) او دا ورته یو فرصت دی څو ګټه ترې پورته کړي. نو ولې باید مونږ د یوې داسې شتمنۍ په مرسته اداینه ونکړو چې با ثباته او ملاتړ ولري، نه داسې اسعار چې ارزښت یې زیاتره وخت خیالي او بې ثباته وي؟

ژباړه: توحیدالله صافی

د افغانستان بانک د ژباړې بورډ غړی

(دا مقاله د بانکرز مجلې چې د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر ۲۰ په انګلیسي ژبه خپره شوې وه، ژباړل شوې)

---

سرچینه:

The Banker 2022. Retrieved from: https://www.thebanker.com/Transactions-Technology/FX-Payments/Gold-payments-make-a-glistening-comeback

# اتصال اقـــــــــتصادی افغانســــــــــتان؛ حرکت به سوی چهار راه ترانزیت منطقه

موقعیت جیواکانومیک افغانستان حائز اهمیت است که با اتصال اقتصادی افغانستان، این کشور از یک سو محور همگرایی اقتصادی منطقه‌ای خواهد شد و از سوی دیگر افغانستان را به چهار راه ترانزیت منطقه مبدل خواهد کرد.

محترم امیرخان متقی سرپرست وزارت امور خارجه ا.ا.ا، در حاشیه نشست سمرقند، در دیدار با بختیار سعیدوف وزیر امور خارجه ازبیکستان، درباره روابط دوجانبه، همکاری‌های اقتصادی و اتصال اقتصادی گفت‌وگو نموده و با توجه به اهمیت این پروژه در یکپارچگی اقتصادی منطقه آمادگی افغانستان را ابراز داشته است.

آغاز این نوع پروژه‌ها به توسعه اقتصادی افغانستان می انجامد که پیامدها و برآیندهای بلند مدت این پروژه ها افغانستان را به سمت یک اقتصاد منطقه‌ای سوق خواهد داد.

افغانستان با اتخاذ سیاست درست در زمینه تبدیل شدن به چهارراه تجارت در آسیا، می‌تواند امتیازات زیادی را بدست آورد از جمله ایفای نقش محوری در همگرایی



اقتصادی منطقه‌ای که مطمئناً بر توسعه اقتصادی، ثبات سیاسی و امنیتی در افغانستان منجر خواهد شد.

دید و بازدید مسوولین بلند رتبه افغانستان در زمینه با کشورهای منطقه نشان میدهد که امارت اسلامی افغانستان به روابط دوجانبه و چند جانبه همکاری های اقتصادی و اتصال اقتصادی کشور متعهد است و میخواهد که افغانستان را به نقطه وصل اقتصاد و ترانزیت منطقه مبدل کند.

در حال حاضر چین به عنوان دومین اقتصاد بزرگ دنیا در تلاش دستیابی به بازارهای بیشتری برای صادرات کالا و همچنین در پی دستیابی به منابع انرژی است که از گذشته های دور تاکنون، کشورهای حوزه خلیج (ایران، عراق، کویت، قطر، بحرین، امارات متحده عربی، عربستان سعودی و عمان) بهترین انتخاب برای برآورده شدن این مقاصد چین به حساب می‌آیند،باید گفت که رسیدن به این مقصد از طریق افغانستان ممکن خواهد بود.

همچنان هند به عنوان کشوری که در حال تبدیل شدن به یک ابر اقتصاد جهانی است و پاکستان به عنوان یک کشور پر جمعیت، نیاز شدیدی به انرژی کشورهای آسیای مرکزی مانند ترکمنستان دارند که سرشار از منابع انرژی هستند.

این معادله سبب توجه کشورهای جنوب آسیا به کشورهای آسیای مرکزی برای دست یافتن به منابع انرژی و شکل گرفتن پروژه‌های انتقال انرژی از جمله تاپی شده است. دو طرف این معامله بزرگ اقتصادی به افغانستان به عنوان نقطه وصل آسیای مرکزی به جنوب آسیا می‌نگرند.

اتصال اقتصادی افغانستان و مبدل شدن به چهار راه کشورهای منطقه میتواند این کشور را به یک اقتصاد قوی و مرفه در منطقه مبدل سازد.

نویسنده: حسیب الله نوری
سخنگوی بانک






# پول افغانی
# هویت
# ملی
# ماست

پول رایج کشور ها دارای ویژگیهای خاص مانند با دوام بودن، مورد قبول عموم بودن، قابل انتقال و استفاده آسان، ارزش ثابت و قابلیت تبادله را دارا بوده که خوشبختانه پول مروج افغانی در کشور دارای تمامی ویژگیهای فوق میباشد. در مفهوم اقتصادی، پول افغانی نه تنها وسیله مبادلات اقتصادی است بلکه بر هویت و اقتدار ملی ما نیز تاثیرگذار است و میتواند به عنوان ابزاری برای تحکیم هویت ملی کشور ما به شمار آید.

پول افغانی نه تنها تعامل اقتصادی ما را آسان می سازد و معاملات به پول رایج کشور ما به ایجاد و شکل گیری ملت و جوامع کمک میکند. ترویج پول ملی کشور ما از موضوعات مورد توجه ارگان های مالی در سیاستگذاری و برنامه ریزی اقتصاد کلان از اهمیت خاصی برخوردار است.

ترویج پول افغانی و وضعیت پولی کشور ما تعیین کننده متغیرهای اقتصادی مانند نرخ تورم، بیکاری و تولید می باشد.

از دیدگاه اجتماعی و سیاسی نیز وضعیت پول افغانی بر زندگی مردم اهمیت فراوان دارد زیرا کاهش ارزش پول افغانی آثار روانی و اجتماعی منفی زیادی را به دنبال دارد .بهبود وضعیت پولی کشور میتواند بر تقویت اعتماد شهروندان و تحکیم هویت ملی و سیاسی ما اثر گذار باشد .افزایش اعتماد به پول ملی باعث آثار مثبت روانی در کشور گردیده، مردم از لحاظ روانی احساس میکنند که از پول کمتری در مبادلات روزمره شان استفاده کرده و از نگاه روانی آرامش اعصاب دریافت می کنند، بناً تصمیم درباره ارج گذاری پول رایج کشور بر دیدگاه شهروندان و اقتصاد کشور ما تاثیر گذار بوده و ترویج پول افغانی، دیدگاه شهروندان را نسبت به بازار تغییر میدهد، زیرا در صورتی که مردم از پول افغانی استفاده نکنند، ارزش پول افغانی شاهد کاهش در ارزش آن خواهد بود.

استفاده از پول افغانی که سبب ثبات پول افغانی در برابر اسعار می گردد، به مردم نیر بستگی دارد. زیرا ارزش پول افغانی توسط نوعی ارتباط دائمی بین اجناس و باور به ارزشمند بودن آن نیز ساخته می شود. یا به گونه دیگر، ارزشمندی پول افغانی از آنجا سرچشمه می گیرد که افراد طالب آن استند تا کالا و خدمات مورد نظر شان را با آن تهیه کنند.

به منظور ترویج و استفاده از پول افغانی در معاملات اقتصادی د افغانستان بانک سعی نموده تا از طریق تبلیغات تلویزیونی، رادیویی، چاپی، نشر ابلاغیه ها و اعلانات از طریق مجله بانک و سایر ابزار مردم را تشویق نموده تا در معاملات و دادوستد شان از پول افغانی استفاده نمایند و آن را به طور درست نگهداری کنند زیرا این امر باعث ثبات بیشتر سیستم پولی می گردد و بر ارزش پول افغانی تاثیر مثبت می گذارد. با درنظر داشت نکات فوق، بانک مرکزی افغانستان همیشه درتلاش است تا با ترویج و حفظ ارزش پول افغانی که هویت ملی ماست، اعتماد شهروندان را نسبت به آن افزایش داده و مانع جانشین شدن ارز های خارجی در کشور گردد.

عبدالحفیظ شاهین

گزارشگر د افغانستان بانک




# د بازار په اقتصاد کې د حکومت رول

اقتصادي سیستمونه چې د اقتصادي نظامونو په نوم هم یادیږي، په ملي اقتصاد کې د خدمتونو او توکو د مؤلدینو (عرضه کوونکو) او مستهلکینو (تقاضا لرونکو) ترمنځ بنسټیزې حقوقي اړیکې او د راکړې ورکړې د انتظام اساسي بڼې دي. دا هغه حقوقي نورمونه او سازماني ډولونه دي چې د هیواد د بنسټیزو اقتصادي پروسو ماهیت او د ودې لوری ټاکي.

د بازار په اقتصادي سیستم کې د ټولو خدمتونو او توکو تولید، توزیع، تبادله او مصرف د مارکیټ د آزاد بهیر او د عرضې او تقاضا د میکانیزم له لارې عملي کیږي. د توکو د بیو لوړ والی پانګوالو ته دا څرګندوي چې ټاکلی توکی ځومره لږ او محدود دی او په وړاندې یې غوښتنه (تقاضا) ځومره لوړه ده او دوی په کومه تولیدي ـ خدماتي څانګه او کوم ځای کې پانګونه وکړي.

د بازار په اقتصاد کې چې د پانګوالۍ د نظامونو اقتصادی سیستمونه یې ژوندۍ بیلګې دي، د تولید پر وسیلو باندې د قانون له مخې خصوصی ملکیت ټینګوي. هر څوک کولای شي چې د خپل شخصي او کورني ضرورت څخه زیاتې پیسې، پانګه، شتمني ـ ځمکه، موټر،

باغونه، فابریکی او نورې د تولید وسیلې په خپل لاس کې ولري او د هغو د کارولو له پاره نور کارګران او ماهران استخدام کړي. د خپلو تولیدي وسیلو او د کار د پردې قوې د ښه پیوستون او تنظیم له لارې کولای شي چې د تولیدي وسیلو د ملکیت د حق له امتیاز او ځواک څخه ښه ګټه واخلي او خپله پانګه او شتمني زیاته کړي. په دې اقتصادي سیستم کې لکه څنګه چې دولتي او کوپراتیفي واحدونه او شرکتونه د خپلو ملکیتونو د ساتلو حق لري، همدا شان وقفي، خصوصي او رنګارنګ ټولنیز شرکتي فارمونه هم د تولید پر وسایلو باندې د مالکیت د لرلو قانوني حق لري. په همدې ډول سوسیالیزم عموماً اقتصادي نظام یا ښوونځي ته راجع کېږي، خو کمونېزم بیا هم پر اقتصادي او هم پر سیاسي ښوونځي دلالت کوي. د کمونیزم له مخې د خدماتو او توکو وېش د وګړو د اړتیاوو له مخې رامنځ ته کېږي، خو سوسیالیزم بیا استدلال کوي چې د خدماتو او توکو وېش د وګړو د هلو ځلو پر بنسټ رامنځته کېږي.

په کمونیستي اقتصاد کې د کپیتالیزم لپاره ځای نه شته، خو سوسیالیزم بیا وايي، څرنګه چې شتمنی د خلکو ترمنځ وېشل کېږي، نو کېدای شي د کپیتالیزم ځینې اړخونه په سوسیالیستي اقتصاد کې ځای ولري، سوسیالیزم هغه ښوونځی دی چې وايي کارګره طبقه باید سرچینې په ټولنه ییزه او ډیموکراتیکه توګه ترلاسه کړي چې وکولای شي د ټولني د اکثریت د ښه والي لپاره توکي تولید کړي. کمونیزم هغه ښوونځي ته وايي چې په ټولنه کې باید نه د طبقې استحصالوونکي، استحصالېدونکي او نه تېری کوونکي اوتېری کېدونکي وجود ولري.

د نوي اقتصاد په جوړښت کې دولت د یوه بنسټ رول لوبوي ددې لپاره چې د عامه تمویل په ماهیت، اهمیت او ستونزو وپوهیږو اړینه ګڼل کیږي چې په اقتصاد کې د دولت رول تر څېړنې لاندې ونیسو:

**په بازار کې د نه لاس وهنې سیاست:**

۱- کلاسیک اقتصاد پوهان (ادم سمیت، ریکاردو او نور) په دې باور دي چې دولت باید په بازار کې محدود رول ولوبوي او بازار باید آزاد پرېښودل شي ترڅو وګړي په آزادانه ډول اقتصادي کړنې ترسره کړي.

دا چې مونږ یوازې پرېږدئ په دی برخه کې ادم سمبت تر نورو وړاندې دی او دا روښانه کوي چې دولت باید په بازار کې لاسوهنه ونه کړي، یوازې و کولای شي چې د خپلې هوساینې او رضایت د ترلاسه کولو لپاره په بازار کې په ښه ډول ګام واخلي او وګړي باید د تولید او استهلاک په دې برخه کې خپلواک وي. خو ددې پالیسی له مخې ادم سمیت په بشپړ ډول هم د دولت د نه مداخلې غوښتنه نه کوي بلکې په اقتصادي کړنو کې د دولت رول ډېر محدودوي او زیاتوي چې که چیرې د دولت موخه سمون، د وګړو د ژوند ښه والی او په ټوله کې د ټولنې پرمختګ وي نو بیا دولت کولای شي چې په بازار کې مداخله وکړي.

همداراز ادم سمیت زیاتوي چې د انفرادي او ټولنیزو ګټو ترمنځ ټکر شتون نه لري، داسې چې په ټولنه کې هر کس د خپلو انفرادي ګټو په لټه کې دی چې د نه لمس کیدونکي لاس په مرسته یې ترلاسه کوي او بالاخره د انفرادي وګړو د ګټو د ترلاسه کولو په پایله کې ټولنیزې ګټې هم ترلاسه کیږي.

د نه لمس کیدونکي لاس باور وروسته د ادم سمیت او کلاسیک اقتصاد پوهانو له لورې د سیالیز بازار په اقتصاد کې لا نور هم روښانه شو او په دې اړه زیاتوي چې، د آزاد بازار په سیستم کې په اغیزمن ډول د سرچینو د ځانګړي کولو لپاره هم نه لمس کیدونکی لاس خورا اغیزمن رول لوبوي او په دې ډول د بشپړې روزګارتیا، او اقتصادي ودې د هڅولو او ساتلو په برخه کې خورا اړین ګڼل کیږي. که چیرې په بازار کې د دولت لاسوهنه زیاته وي نو د بازار د جوړښت اغیزمنتوب هم کمیږي. نو له همدې امله له دولت نه غوښتنه کوي چې د آزاد پریښودلو پالیسي غوره کړي څو وګړي په اغیزمن ډول خپلې سرچینې په کار

یوسي او د ټولنې پرمختګ ته لاره هواره شي.

د دولت دندې (کلاسیک فکر):ادم سمیت په دې آند دی چې دولت له دوه اړخو یو بنسټیز سیاسي ارګان دی:

۱- ټولنیز-سیاسي بنسټ.

۲- اقتصادي بنسټ.

او د دولت لپاره لاندې درې بنسټیزې او ډېرې اړینې دندې په ګوته کوي چې عبارت دي له:

ساتنه او دفاع : له تیري او تاوتریخوالي څخه د ټولنې ساتنه د دولت دنده ده او دفاع د دولت ډېره اړینه دنده ګڼل کیږي همداراز په دې برخه کې د وسله والو ځواکونو ساتل، تجهیزول، لګښتونه او نور باید د دولت له لوري ترسره شي.

د عدالت رامنځته کول او د قوانینو او مقرراتو ساتل له ظلم او زیاتي څخه د ټولنې د هر وګړي ساتنه د دولت دنده ګڼل کیږي او زیاتوي چې کله چې په ټولنه کې د انفرادي وګړو ترمنځ کومه شخړه رامنځته کیږي نو دولت باید د شخړې د عادلانه حل په موخه مداخله وکړي او عدالت تامین کړي.

عامه کارونه : ادم سمیت زیاتوي چې د عامه کارونو ترسره کول او د عامه بنسټونو جوړول د دولت دنده ده او دا کارونه او بنسټونه باید د هیڅا په شخصي واک او یا هم د شخصي ګټو په انحصار کې نه وي ځکه چې ددې کارونو او بنسټونو ګټې ټولنې ته رسیږي. همدا راز د بنسټیزو پروژو (د سرکونو جوړول، د پلونو او پلچکونو جوړول، د کانالونو او د برښنا بندونو جوړول، ټولنې ته د وړیا زده کړو زمینه برابرول او نور) پلي کول چې د شخصي سکتور له لوري نه ترسره کیږي هم د دولت دنده ګڼل کیږي.

د دولت پورته یادو شوو دندو ته د دولت مثبتې دندې هم ویل کیږي او ادم سمیت ددې دندو ترڅنګ ځینې نورې دندې هم په ګوته کوي چې په لاندې ډول ترینه یادونه کوو:

بنسټیزې منفي دندې : ادم سیمت زیاتوي چې دولت باید په بازار کې د غیر ضروري لاسوهنې څخه چې د بازار تعادل له منځه وړي، ډډه وکړي. همدا راز نوموړي د خوندیتوب د پالیسۍ چې د نړیوالې سوداګرۍ د ودې مخه نیسي، خلاف دی. په همدې ډول د هغه صنعتي سیاست مخالف هم دی چې په پایله کې یې کرنې ته زیان رسیږي او په نړیوالې سوداګرۍ باندې د دولت له لوري ټاکل شوي محدودیتونه (سهمیه یا ونډه، تعرفه، اداري خنډونه او نور) باید د دولت له لوري له منځه یوړل شي او دولت باید د ټولنې د یوې برخې وګړو د ګټو له تامین څخه ځان وساتي.

د بازار جوړښت او د شخصي تشبث غښتلي کول : د بازار جوړښت د پانګه وال اقتصادي نظام بنسټ جوړوي او په دې برخه کې پیسې حیاتي رول لوبوي. نو له همدې امله دولت باید د پیسو مقدار مدیریت کړي څو اقتصادي وده زیاته او وساتي او په دې برخه کې د پیسو کورنۍ او هم بهرنۍ ارزښت باید وساتل شي څو په اقتصاد کې د عدم تعادل حالت رامنځته نه شي. همدا راز دولت باید د مستهلکینو حقونه خوندي کړي او د کاروبارونو له استثمار څخه یې وژغوي او کاروبارونو ته د توکو قیمتونو ډېر لوړوالي، احتکار، تور بازار رامنځته کولو او داسې نورو کړنو چې اقتصاد ته زیان رسوي، اجازه ور نه کړي او په دې برخه کې غښتلي قوانین رامنځته او پلي کړي. همدا راز د کارګرانو د مزد او معاش کم تر کمه حد وټاکي، د نوو زیږیدلو صنعتونو ملاتړ وکړي او له بهرنو سیالي کوونکو څخه یې وساتي.

**عبدالواحد توریالی**

**اقتصاددان زون مرکز و هماهنگ کننده زون ها**

**آمریت عمومی سیاست پولی**

اخیستنې :
1. http://archive.mashal.org/content.php
2. https://rohi.af/news/54371
3. https://rohi.af/news/54097

# اهداف عمده انکشافی افغانستان

افغانستان یکی از فقیرترین کشورهای جهان به حساب می رود زیرا ده ها سال بی ثباتی و جنگ به اقتصاد کشور آسیب وارد کرده و مانع توسعه شده است. اما افغانستان هنوز هم آماده پیشرفت ها در زمینه انکشاف اقتصادی و اجتماعی، تأمین امنیت و رفاه عامه و فقر زدایی می باشد، و در راستای ایجاد یک جامعه مرفه، باثبات و فارغ از هرگونه بی عدالتی از هیچ گونه سعی و کوشش دریغ نمی کند. با در نظر داشت آگاهی از وضع اقتصادی و امکانات موجود در کشور، می توان گفت که یکی از اهداف عمده انکشافی افغانستان افزایش رشد اقتصادی و ایجاد شغل است. این امر برای ثبات و رفاه درازمدت کشور حیاتی است، زیرا به کاهش فقر، افزایش دسترسی به آموزش و مراقبت های صحی و ایجاد فرصت ها برای مردم افغانستان کمک می کند. برای دستیابی به این هدف، دولت ها بر روی تعدادی از زمینه های کلیدی تمرکز کرده اند. در سال های اخیر، اهمیت رشد اقتصادی در انکشاف افغانستان به طور فزاینده ای درک شده است و تلاش های هماهنگ برای رشد سرمایه گذاری سکتور خصوصی، بهبود زیربناها و حمایت از سکتورهای کلیدی مانند زراعت و تولید صورت گرفته است.

افغانستان برای رشد پایدار و فراگیر اقتصادی به خصوص در ارتباط متقابل اقتصادی در سطح منطقه خیلی ارزش میدهد و مصمم است تا در نحوه تولید و مصرف کالا تغییرات بنیادین ایجاد کرده، میان بخش های مختلف اقتصادی و تجاری در جهت تقویت ظرفیت های علمی، تکنالوژی نوین و نو آوری ها بخاطر الگو های پایدار تر تولید و مصرف هماهنگی ایجاد کند. در شرایط کنونی مشارکت همه نهاد های ملی اعم از دولتی و غیر دولتی،











سکتور خصوصی، بخاطر رسیدن به اهداف تعیین شده، ضروری است. افغانستان جهت رشد اقتصاد کشور، در ایجاد شرایط مساعد برای سرمایه گذاری های داخلی و خارجی، فعالیت های سرمایه گذاری برای ایجاد زیر بنا های ملی باکیفیت، انکشاف اقتصادکشور بوسیله ازدیاد سرمایه گذاری، گسترش فعالیت های تشبثات کوچک و متوسط، رشد متوازن بخاطر اشتغال و افزایش درآمد شهروندان کشور، به وجود آوردن سیستم پاسخگو احصائیوی، ازدیاد عاید ملی وعاید سرانه تمرکز خواهد داشت.

ضرورت است تا جهت برآورده ساختن اهداف پیشرفت های اقتصادی و اجتماعی دولت نقش ارزنده خود را در رشد اقتصادی، نظیر بلند بردن سطح زندگی شهروندان کشور، با تمرکز بر سکتور های مانند زراعت، معادن، خدمات و صنعت نقش اساسی را ایفاء نماید.

رشد سرمایه گذاری در سکتور خصوصی برای پیشبرد رشد اقتصادی در افغانستان ضروری است. دولت می تواند تعدادی اصلاحات را برای بهبود فضای تجارت در گذشته اجرا نماید که ازین جمله می توان ساده سازی پروسه ثبت تجارت ها، کاهش مالیات و تعرفه ها و بهبود دسترسی به منابع مالی را نام برد که درین زمینه گام های موثر نیز برداشته شده است و نیاز است تا در زیرساخت های مهم برای رشد اقتصادی سرمایه گذاری صورت گیرد.

ثانیاً، زراعت یک بخش کلیدی برای رشد اقتصادی در افغانستان است، زیرا اکثریت نفوس کشور دسترسی به این بخش دارند و سهم قابل توجهی از تولید ناخالص داخلی کشور را به خود اختصاص می دهد. نیاز است تا درین زمینه توجه بیشتر صورت گیرد و برنامه های متعدد برای حمایت از کشاورزی، بهبود سیستم های آبیاری، و حمایت از تحقیق و توسعه برای ترویج محصولات پرمحصول صورت گیرد.

همچنین نیاز است تا برای ارتقای تولید و سایر بخش‌های کلیدی، مانند معادن و سیاحت، برای تنوع بخشیدن به اقتصاد و ایجاد شغل تمرکز صورت گیرد. این شامل سرمایه گذاری ها در زیرساخت ها مانند پارک های صنعتی و مناطق ویژه اقتصادی برای جذب سرمایه گذاری خارجی و ارتقای صادرات می باشد.

گرچه در گذشته تمرکز روی سکتور خصوصی وجود داشت، اما این بخش مهم اقتصادی علی الرغم توجه به این بخش نتوانسته جایگاه واقعی خود را پیدا کند. فساد اداری، روند بطی اصلاحات اقتصادی، نبود زیر بنا ها، عدم دسترسی به زمین بخاطر پارک صنعتی و غیره سبب شد تا سکتور خصوصی به شکلی که لازم بود شکل نگیرد. بناءً در شرایط کنونی فراهم آوری شرایط مناسب برای ایجاد سکتور های که قادر به ایجاد اشتغال باشد روی دست گرفته شود و در ضمن جهت حمایت از سرمایه گذاری و سکتور خصوصی، تعدیل اصلاحات و ساده سازی به میان آورده شود.

این یک حقیقت مسلم است که اگر بخش های خصوصی صادقانه در کنار دولت کارکند، عدالت اجتماعی و مساوات درجامعه حاکم شده، چالشهای اقتصادی و اجتماعی از بین می رود و در پی آن کاهش فقر، بهبود زندگی، ایجاد اشتغال، تحصیل، صحت و سایر بهبودی های لازم زندگی به میان می آید. در نهایت می توان گفت که بخش خصوصی میتواند با فراهم سازی خدمات بهتر هم به دولت وجامعه کمک کرده و هم خود از منافع مادی زیاد بهره مند شود.

در مجموع، دستیابی به هدف رشد اقتصادی در افغانستان مستلزم تلاش و تعهد مداوم از سوی دولت، شرکای بین المللی آن و سکتور خصوصی است. در حالی که چالش های زیادی درین زمینه وجود دارد، با پالیسی ها و سرمایه گذاری های درست، افغانستان پتانسیل دستیابی به رشد اقتصادی پایدار و ایجاد آینده بهتر برای مردم خود را دارد.

عبدالحفیظ شاهین

گزارشگر د افغانستان بانک

منابع:

۱- چارچوب انطباق دهی و همخوانسازی / تاریخ نشر : سال ۱۳۹۷ https://faolex.fao.org › docs › pdf

۲- امارت اسلامی، شرایط را برای رشد و تقویت فعالیت / https://bakhtarnews.af

۳- امارت اسلامی: زمینه تطبیق پروژه‌های بزرگ اقتصادی / ttps://www.ariananews.af



# د افغانۍ یو کلن مزل (۱۴۰۱)

## د ارزښت ساتنې عوامل او پرمختګونه

افغانۍ په تېر یو کال کې د سیمې او نړۍ د یو شمېر هېوادونو په کچه په غوره ارزښت لرونکو پولي واحدونو کې راغلې ده او د تېر کال په پرتله ډېره باثباته وه. په دې مقاله کې د هغو عواملو په اړه بحث شوی دی چې د افغانۍ د ارزښت په ساتنه کې یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول مرسته کړې ده.

په افغانستان کې د ملي او نړیوالو پروژو پیل، په بریالۍ توګه د پولي سیاستونو پلي کېدل، صادراتي وده، د دولت په کچه بې ځایه لګښتونو مخنیوی، د روڼتیا رامنځته کېدل، له هېواد څخه بهر د اسعارو د قاچاق مخنیوی او بشري مرستې هغه عوامل دي چې د افغانۍ د ټیکاو په ساتنه کې یې مرسته کړې ده او افغانۍ دا مهال په غوره ثبات لرونکو پولي واحدونو کې ځای لري.

**د ملي او نړیوالو پروژو پیل:**

د افغانستان اسلامي امارت تر راتګ وروسته په هېواد کې یو شمېر ملي او نړیوالې پروژې پیل شوې چې دې چارې په مستقیم ډول د افغانیو ارزښت په ساتنه او لوړونه کې مثبت اغیز لرلی دی. دا مهال په هېواد کې یو شمېر ملي او نړیوالې پروژې پیل شوې دي او د زیات شمېر لویو اقتصادي پروژو په برخه کې یو شمېر بهرنیو هېوادونو د پانګونې ژمنې کړې دي.

د دې پروژو له ډلې د قوش تیپې کانال څخه یادونه کولای شو. د قوش تیپې کانال د لومړي فاز د رغونې چارې په ۱۲۰ نقطو کې روانې دي چې په یوه وخت پکې ۵۹۰۰ کسانو ته په کې د کار کولو زمینه برابره شوې ده.

دغه کانال د بلخ له کلدار ولسوالۍ پیلېږي او د جوزجان له لارې د فاریاب اندخوی ولسوالۍ ته رسیږي. د دې کانال اوږدوالی ۲۸۵ کیلو متره ښودل شوی او لسګونه زره جریبه ځمکه به خړوبولای شي. پر دې کانال نژدې ۶۰ میلیارده افغانۍ لګښت راځي.

**په بریالۍ توګه د پولي سیاستونو پلي کول:**

د افغانستان بانک د پولي سیاستونو د بېلابېلو ابزارونو په کارولو سره تل هڅه کړې ده چې د افغانۍ ارزښت د بهرنیو اسعارو په وړاندې وساتي او پرې نه ږدي چې په دې برخه کې حاد نوسانونه رامنځته شي. مالومات ښيي چې په ۱۴۰۱ کال کې د افغانۍ ارزښت د امریکايي ډالر پر وړاندې ۱.۰۱ سلنه لوړوالی موندلی دی، دا په داسې حال کې ده چې تېر کال د امریکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې ۱۳.۸۶ سلنه ټیټوالی راغلی وو.

همدارنګه د انفلاسیون کچه د ۱۴۰۱ کال د سلواغې په میاشت کې ۳.۵ سلنې ته رسېدلې ده، په داسې حال کې چې د تېر کال په همدې موده کې ۱۵.۳ سلنه وه چې دا یوه لویه لاسته راوړنه ده. په دې برخه کې د افغانستان بانک لاسته راوړنې د ملي او نړیوالو رسنیو او بنسټونو له لورې ستایل شوې دي. نړیوال بانک په خپل وروستي راپور کې چې د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په ۲۵ نېټه یې خپور کړی دی، د انفلاسیون د کموالي او د هېواد د ملي پیسو د ارزښت د ټیکاو په اړه خبر ورکړی دی.

په دې راپور کې راغلي دي چې د افغانستان د انفلاسیون نرخ خپل ټیټېدونکي بهیر ته دوام ورکوي او په دې کې د افغانیو له ټیکاو څخه یادونه شوې او د امریکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ د ۸۷-۸۹ ترمنځ ښودل شوی دی چې د امریکايي ډالرو پر وړاندې۱.۵سلنه ډېر لږ کموالی ښکاره کوي، حال دا چې په یاده موده کې د امریکايي ډالرو پر وړاندې پاکستانۍ روپۍ (۲۴.۸ سلنه) او هندي روپۍ (۲.۶ سلنه) د ارزښت کموالی تجربه کړی دی.

همدارنګه د بلومبرګ نړیوالې رسنۍ یو راپور چې په دې وروستیو کې خپور شوی دی د افغانۍ د ارزښت له لوړوالي خبر ورکوي په دې راپور کې د نړۍ په نهو بهترینو او نهو بدترینو پولي واحدونو څېړنه شوې ده چې ښيي افغانۍ د نهو بهترینو پولي واحدونو په ډله کې راغلې ده او د تېر کال په پرتله یې د امریکايي ډالرو پر وړاندې ارزښت ۵.۶ سلنه لوړ شوی دی.

په لاندې ګراف کې د نهو بهترینو او نهو بدترینو پولي واحدونو ارزونه شوې ده:




**د صادراتو د کچې لوړېدل:**

دولت د هېواد اقتصادي ثبات په پار کوټلي ګامونه اخیستي چې په پایله کې یې د ۱۴۰۱ کال په لومړیو ۹ میاشتو کې د صادراتو کچه ۱۴۲۴ میلیون امریکايي ډالرو ته رسېدلې. په داسې حال کې چې د ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو په لومړیو ۹ میاشتو کې د صادراتو کچه په ترتیب سره ۴۳۴ او ۴۷۸ میلیون ډالره وه او هلې ځلې روانې دي چې دا برخه لا نوره پیاوړې او د صادراتو کچه لوړه شي.

د صادراتي کچې لوړېدل د افغانۍ د ارزښت د ثبات په برخه کې مرسته کړې او دا چاره د دې لامل شوې ده چې د هېواد په تولیز اقتصاد کې پرمختګ رامنځته شي. همدارنګه دې برخې ته د دولت د پاملرنې ډېروالی کولای شي چې هېواد ته د اسعارو راتګ لامل شي او دا چاره د افغانۍ د ارزښت په ساتنه کې مرسته وکړي.

صادرات د هېوادونو د اقتصاد د ودې او پراختیا له لاملونو څخه شمېرل کیږي؛ همدا لامل دی چې د دولت او خصوصي سکتور د نورو فرصتونو د برابرولو او د سوداګرو د ستونزو د له منځه وړلو په برخه کې هڅه کړې ده، څو د هېواد د صادراتو کچه زیاتوالی ومومي. د صادراتو په پراختیا سره به د هېواد د سوداګرۍ بیلانس د تعادل په حالت کې واقع شي او همدا ډول

به په تولیدي برخه کې له ځان سره نوې لاسته راوړنې ولري چې بې له شکه په استخدام او کارموندنې کې به ډیر ښه رول ولوبوي. د دې ترڅنګ صادرات د نوو پانګونو زمینه برابروي او دا هغه څه دي چې د هېواد په اقتصادي وده کې ډیر زیات اهمیت لري.

**د دولتي نااړینو لګښتونو مخنیوی او سپما:**

په تېر یو کال کې د دولت په کچه د غیر ضروري او بېځایه لګښتونو څخه مخنیوی شوی او د سپما اصل ته په پام سره په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي دي. په لګښتونو کې د سپما اصل په پام کې نیول هم د دې لامل کېږي چې دا چاره د افغانی د ارزښت په ساتنه کې مرسته وکړي او په ټوله کې د بیو د ټیکاو لپاره لاره هواره کړي.

**د روڼتیا رامنځته کېدل:**

باید یادونه وشي چې دولت په تېر یو کال کې د روڼتیا په موخه کوټلي ګامونه پورته کړي او دا چاره د دې لامل شوې ده چې فساد کم او ټولې چارې په پوره روڼتیا سره تر سره شي.

په دې برخه کې د مسئولو چارواکو ټینګ عزم او ژمنتیا د دې ښکارونه کوي چې دولت شفافیت ته ژمن دی او غواړي چې په مطلق ډول د فساد مخنیوی وشي.

د یادونې وړ ده چې په چارو کې د روڼتیا رامنځته کېدل د افغانیو ارزښت ساتي او د بیو په ټیکاو کې مرسته کولای شي.

**د پیسو وینځلو مخنیوی:**

د افغانستان اسلامي امارت تر راتګ وروسته د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه ترلاسه شوو عوایدو د مخنیوي په برخه کې کوټلي ګامونه پورته شوي او د بهرنیو اسعارو د قاچاق څخه مخنیوی شوی دی.

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه ترلاسه شوو عوایدو د مخنیوي قانون د څلور دېرشمې مادې پر بنسټ د پیسو وینځلو او نورو جرمونو د تمویل سره د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون کاري کمیټې غونډې د نهو دولتی ادارو د استازو په ګډون تر سره شوې دي. د دې غونډو په لړ کې د پیسو وینځلو د مخنیوي په برخه کې د پام وړ ګامونه پورته شوي. د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه په مالي او بانکي برخو کې ټولو قوانینو او مقرراتو ته ژمن دی او تل یې هڅه کړې ده چې د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه ترلاسه شوو عوایدو د مخنیوي لپاره کار وکړي.

همدارنګه له افغانستان څخه د بهرنیو اسعارو قاچاق د مخنیوي لپاره له اړوندو ادارو سره ښه همغږي موجوده ده او څوک نه شي کولای چې له افغانستان څخه اسعار په قاچاقي ډول بهرنیو هېوادونو ته ولېږدوي.

**بشري مرستې:**

پاتې دې نه وي چې د نړیوالې ټولنې لخوا له خلکو سره بشري مرستو هم پدې برخه کې ښه رول لوبولی دی. هېواد ته له اصولي لارو د اسعارو راتګ د دې لامل کېږي چې په بازار کې د اسعارو کچه لوړه شي او په بازار کې د اسعارو د کچې له لوړېدو سره د افغانۍ لپاره تقاضا زیاتېږي او دا چاره د افغانۍ د ارزښت په ساتنه کې مرسته کوي.

**لیکنه: حسیب الله نوري د افغانستان بانک ویاند**

---

سرچینې:


1. https://www.bloomberg.com/news/articles/2023-02-06/dollars-smuggled-from-pakistan-provide-lifeline-for-the-taliban#xj4y7vzkg
2. Afghani currency is among nine best currencies of world: DAB
3. https://www.afghanislamicpress.com/en/news/97310
4. https://www.avapress.com/en/news/265223/the-afghan-currency-is-among-the-most-s_table-currencies-in-world

# اقتصادي خبرونه

**وزارت صنعت و تجارت از توزیع نزدیک به ۲۷۰۰ جواز بازرگانی در یک سال گذشته در کشور خبر داده است.**



آخندزاده عبدالسلام جواد سخنگوی وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که از این میان جوازهای توزیع شده، بیش از ۱۰۰ جواز سرمایه گذاری را شهروندان کشورهای دیگر گرفته‌اند.

